# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**5 میزان _سال 1402**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه

د مهاجرینو او راستنېدونکو د ستونزو د حل په موخه د مهاجرینو چارو وزارت د مسلکي مرستیال او د ننګرهار ولایت د والي ترمنځ ناسته ترسره شوه ------------------------------------------------------------------------------------1

معین مسلکی از مرز تورخم ولایت ننگرهار دیدن نمود -------------------------------------------------------------2

دیدار هیات ا.ا از مهاجران تازه بازگشته از پاکستان -------------------------------------------------------------2

جوزجان کې له ۲۰۰ زیاتو کورنیو سره د وړیو د اوبدلو او نغدي مرستې وشوې-------------------------------------4

نشست هماهنگی موسسات درولایت پروان برگزارشد -------------------------------------------------------------5

پولیس فدرال آلمان در یک عملیات گسترده پنج قاچاقبر مظنون را بازداشت کرد --------------------------------------5

فرانسه: د پا دو کالي په یو ساحل کې د یوې کډوالي مړی موندل شوی ----------------------------------------------6

د کډوالو مخنیوی: پولنډ له سلواکیا سره پر پوله کنترول پیلوي------------------------------------------------------8

چک برای مبارزه با مهاجرت غیرقانونی با آلمان همکاری می کند ----------------------------------------------------9

اسیایي لوبې؛ محمد خالد هوتک خپل هندي حریف مات کړ -------------------------------------------------------11

# متن کامل اخبار

## د مهاجرینو او راستنېدونکو د ستونزو د حل په موخه د مهاجرینو چارو وزارت د مسلکي مرستیال او د ننګرهار ولایت د والي ترمنځ ناسته ترسره شوه

د وزارت ویب سایت



**د مهاجرینو چارو وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد او د ریاست الوزرا له لوري د ګومارل شوي کمېسیون رئیس د تلې په ۳ مه د راستنېدونکو د وضعیت د لا ښه والي په موخه د ننګرار ولایت د والي مولوي محمد نعیم آخوندزاده سره لیدنه وکړه.**

**په یاده ناسته کې د مهاجرینو او راستنېدونکو پرستونزو خبرې وشوې او پرېکړه وشوه، چې لومړی دې د مهاجرینو چارو وزارت له بهرنیو چارو وزارت سره په همغږۍ د مهاجرینو ننګونو ته زیاته پاملرنه وکړي.**

**همدارنګه پرېکړه وشوه، چې د دغه ولایت په مومند درې ولسوالۍ کې شاوخوا ۶۰۰ جریبه دولتي ځمکه کې د ۵۰۰ کورنیو له پاره  ترڅو چې دوی خپلو اصلي سیمو ته ستنېږي موقتي سرپناه جوړه کړي او د راستنېدلو له نېټې څخه تر یوې میاشتې پورې ور ته  خوراکي توکي هم چمتو شي او همدارنګه د پورتینو پرېکړو د پلي کولو په موخه د ننګرهار ولایت د والي ترڅارنې لاندې یوه کمېټه جوړه او د ولایتي کمېټې کاري پرمختګونه په پرلپسې ډول،  ټاکل شوي کمېسیون ته وړاندې کړي.**

**د یادولو وړ ده، چې د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال د ریاست الوزرا د لار ښوونې پر اساس د یوه پلاوي په مشرۍ د یو شمېر وزارتونو د مرستیالانو او مستقلو ریاستونو د رئیسانو سره درې ورځې وړاندې ننګرهار ولایت ته د پاکستان څخه د راستنېدونکو افغان مهاجرو د وضعیت او ستونزو د څېړلو په موخه  تللی.**

## معین مسلکی از مرز تورخم ولایت ننگرهار دیدن نمود

ویب سایت وزارت



**مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت در دومین روز سفرش به تاریخ 3 میزان از دفتر سازمان بین المللی مهاجرت در تورخم دیدن نمود.**

**مسوول دفتر زون شرق سازمان بین المللی مهاجرت در مورد فعالیت آن اداره گفت که این سازمان محل مناسب برای جابجایی عودت کننده گان از طرف شب، معالجه و کمک های اولیه صحی و توزیع پول نقد و مواد غذایی را در ساحه تورخم آماده کرده است و برای فراهم نمودن تسهیلات بیشتر تلاش داریم.**

**آقای راشد با قدر دانی از همکاری نهاد مذکور بر شفافیت در مساعدت برای عودت کنندگان، و عرضه خدمات تاکید نمود.**

**معین مسلکی و هیأت همراه با معاون والی ننگرهار از نقطه ی صفری میان افغانستان و پاکستان بازدید و چالش های موجود در برابر رفت و برگشت افغانها را بررسی نمودند.**

**وی همچنان از ساحه 900 جریب زمین دولتي در ولسوالی های مومند دره و لعل پور که برای اعمار کمپ پذیرایی موقت از عودت کننده ها در نظر گرفته شده است نیز دیدن نمود.**

## دیدار هیات ا.ا از مهاجران تازه بازگشته از پاکستان

طلوع نیوز

**پس از نشر گزارش‌های مربوط به بازداشت، و آزارو اذیت پناهجویان افغان در پاکستان، روند بازگشت آنان به کشور، افزایش یافته است.**



هیاتی که به دستور رهبر امارت اسلامی تشکیل شده، با مهاجرانی که به تازگی از پاکستان به کشور باز گشته‌اند، در گذرگاه تورخم دیدار کرده است .

به گفته‌ی اعضای این هیات، برای مهاجران تازه برگشته در ننگرهار و ولایت‌های همجوار، آمادگی کامل دارند و به هدف برطرف کردن مشکل جای بودوباش آنان، تلاش‌ها را نیز آغاز کرده‌اند.

پس از نشر گزارش‌های مربوط به بازداشت و آزار و اذیت پناهجویان افغان در پاکستان، روند بازگشت آنان به کشور، افزایش یافته است.

عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت مهاجرین و عودت کنندگان، گفت: «ما مجبور استیم که مهاجرین خود را در داخل افغانستان برای شان جای پیدا کنیم، زندگی شان را برابر کنیم. آغوش امارت اسلامی برای آنان باز است».

از سویی دیگر، مهاجران تازه برگشته می‌گویند، از این‌که به وطن برگشته‌اند خوشحال هستند و از حکومت سرپرست می‌خواهند تا برای شان زمینه‌های کاری را فراهم کنند.

شفیق الله، به طلوع‌نیوز، گفت: «نه خانه دارم، نه جایداد دارم. در این وطن هیچ چیزی ندارم. از بزرگان امارت اسلامی می‌خواهم که به ما سرپناه بدهند».

عبدالبصیر، برگشت کننده، گفت: «وقتی بیاییم جای ما باید مشخص باشد. وقتی از آن جا کوچ ما را بار می‌کنیم، خواب از چشم ما ربوده می‌شود که کجا جابه‌جا خواهیم شد. حالا پشت زمین خواهم گشت، یا در کامه یا در جایی دیگری .خود ما جای نداریم«.

اسدالله، برگشت کننده دیگر، می‌گوید: «من از ولایت کندز استم. زمستان نیز فرا می‌رسد، آنجا برف می‌بارد. آنجا هیچ چیزی نداریم، نه کار و نه روزگار. برای ما باید هر گونه کمک صورت گیرد «.

مسوولان در ننگرهار می‌گویند که اکنون آمادگی‌های لازم را برای سرپناه موقت دارند و در تلاش ایحاد سرپناه دایمی برای مهاجران بازگشت کننده نیز هستند .

سعید احمد بنوری، معاون والی ننگرهار، گفت: «نخستین سرپناه شاید خیمه یا چیزی دیگری که نیاز دارند، آن نیاز شان پوره خواهد شد، آن را انجام خواهیم داد و تصمیم در باره سرپناه آنان نیز داریم«.

براساس معلومات مسوولان محلی گذرگاه تورخم، روزانه به گونه‌ی میانگین، ۱۵۰ خانواده از این گذرگاه به کشور بر می‌گردند و پس از کمک‌های اولیه، به جاهای از پیش تعیین شده، جابه‌جا می‌شوند.

## جوزجان کې له ۲۰۰ زیاتو کورنیو سره د وریو د اوبدلو او نغدي مرستې وشوې

د وزارت ویب سایت



د جوزجان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په دغه ولایت کې ۲۴۶ کورنیو ته د تلې په ۳مه د وړیو د اوبدلو د وسایلو او نغدي مرستو د وېش خبر ورکړ.
یادې کورنۍ د جوزجان ولایت د مهاجرینو ریاست د پلاوي له لورې د شبرغان ښار په ۹ قریو کې سروې او د مرستو له پاره مستحقې په نښه شوې وې، چې له ډلې یې ۲۰۰ کورنیو هرې کورنۍ ته د وړیو د اوبدلو ماشین، د لمریزې برېښنا

تختې، د وړیو د اوبدلو شانه، یو اندازه وړۍ  او ۴۶ نورو کورنیو ته په دوو کټګوریو کې ۲۷ زره او ۵۰۰ او ۲۲ زره او ۶۰۰ افغانۍ د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې په مالي مرسته د مهاجرینو چارو ریاست ترڅارنې لاندې ووېشل شوې.

## نشست هماهنگی موسسات درولایت پروان برگزارشد

ویب سایت وزارت



ریاست امور مهاجرین و عودت کنندگان ولایت پروان از تدویر نشست هماهنگی موسسات تحت ریاست معاون والی آن ولایت به تاریخ 3 میزان خبرداد.

معاون والی ضمن قدر دانی از فعالیت  موسسات در بخش های گوناگون از مشکلات عودت کنندگان و بیجاشدگان یاد آوری نمود و رسیدگی به آن را وجیبه دینی و شرعی دانست.

وی از موسسات خواست تا در قسمت توزیع مساعدت و اشتغالزایی برای عودت کنندگان و بیجاشدگان توجه جدی نمایند.

در ادامه نشست ادارات سکتوری و موسسات گزارش فعالیت شان را ارایه  و وعده کمک های بیشتر را برای عودت کنندگان و بیجاشدگان سپردند .

## پولیس فدرال آلمان در یک عملیات گسترده پنج قاچاقبر مظنون را بازداشت کرد

مهاجرنیوز




**پولیس فدرال آلمان در عملیات ویژه ای که در نخستین ساعات روز سه شنبه در پنج ایالت این کشور انجام شد، چندین مهاجر سوریایی را پیدا کرد که ظاهرا با کمک قاچاقبران به این کشور آمده بودند .**

**یک سخنگوی پولیس فدرال در مصاحبه با خبرگزاری آلمان «دی پی ای» گفت، در طی این عملیات پنج دستور بازداشت برعلیه دو زن و یک مرد در شتاده و یک زن و یک مرد در گلادبک به اجرا درآمده است. همه این افراد متهم به قاچاق مهاجران هستند.**

**سخنگوی پولیس فدرال در ادامه گفت که همه این پنج تن پناهجویان سوریایی هستند و باهم نسبت خانوادگی دارند. این باند مظنون به قاچاق انسان در مجموع متهم است که در طول زمان بیش از ۱۰۰ سوریایی را به آلمان قاچاق کرده است.**

**بنا به گزارش سخنگوی پولیس فدرال، هرکدام از مهاجران قاچاق شده در قبال ورود غیرقانونی به آلمان، بین ۳ تا ۷ هزار یورو پرداخت کرده اند.**

**قاچاقبران مظنون افزون بر اتهام های عضویت در یک باند خلافکار و کسب درآمد با قاچاق شهروندان خارجی با اتهام پولشویی نیز روبرو هستند. گفته می شود که آن ها با درآمدهای غیرقانونی شان جواهرات خریداری کرده اند.**

**به گزارش مدیریت پولیس فدرال آلمان در میدان هوایی فرانکفورت ام ماین، بیش از ۳۵۰ مامور پولیس در هفت ناحیه به دستور لوی سارنوالی شتاده به آپارتمان ها و خانه های افراد مظنون یورش برده اند. عملیات گسترده پولیس در این مناطق انجام شده است: شتاده (ایالت نیدرزاکسن)، گلادبک (نوردراین وست فلن)، فولدا، کسل (در هسن)، بریمن، بالگه (نیدرزاکسن) و کایل هایم (بایرن).**

## فرانسه: د پا دو کالي په یو ساحل کې د یوې کډوالې مړی موندل شوی

مهاجرنیوز



د فرانسې د پا دو کالې په یو ساحل کې نن سه شنبه د سپټمبر ۲۶مه د یوې کډوالې مړی موندل شوی دی. تر اوسه د نوموړې د مرګ علت نه دی څرګند شوی.

یوې سرچینې چې له مرستندویو سازمانونو سره نږدې اړیکې لري د فرانسې خبري اژانس ته ویلي دي د یادې کډوالې مړی نن سه شنبه د سپټمبر ۲۶مه د سنګات په بلېریو ساحل کې موندل شوی دی.

بل پلو د پا دو کالې قومندانۍ ویلي دي چې «ژغورونکو هڅه وکړه یوه ځوانه ښځه وژغوري چې سکته یې کړې وه، خو بریالي نه شول». سرچینې زیاته کړې چې تر اوسه د نوموړې د مرګ علت نه دی څرګند شوی. په وینا یې د بولونی سور مېر ښارنوالۍ د دې پېښې په اړه پلټنې پیل کړې دي.

داسې ګومان کېږي چې یاده کډواله د اریتریا تبعه ده او په ۱۹۹۹ کال کې زېږېدلې ده. د نوموړې مړی عدلي طب کې دی او پولیس هڅه کوي چې د هغې د مړینې لامل معلوم کړي.

ترینګلی حالت :بڼه ورته مهال د مانش او شمالي سمندر قومندانۍ د فرانسې خبري اژانس ته ویلي دي چې تېره شپه زیاتو کسانو هڅه وکړه چې انګلیس کانال له لارې ځانونه برېتانوي سواحلو ته ورسوي.

همدارنګه د یوتوپیا ۵۶ سازمان غړي نیکولا پوسنر یاد اژانس ته ویلي دي چې برېتانیا ته د ورتلونکو کډوالو د لوړ شمېر له امله په سواحلو کې وضعیت ترینګلی و .نوموړي زیاته کړې چې د شپې په جریان کې زیاتو کسانو ورسره ټلیفوني اړیکې نیولې او د مرستې غوښتنه یې ترې کړې دي.

**د یادولو ده چې د اګست میاشتې په ۱۲مه انګلیس کانال کې د کډوالو د یوې کښتۍ د ډوبېدو له امله ۶ افغانانو خپل ژوند له لاسه ورکړی و. تر دغې پېښې وروسته <u>څلور کسان د غیر قصدي وژنې او تېرې کولو په تور ونیول شول</u>.**

## د کډوالو مخنیوی: پولنډ له سلواکیا سره پر پوله کنترول پیلوي

مهاجرنیوز



**د پولنډ حکومت اعلان کړی دی چې د کډوالو د ورتګ د مخنیوي لپاره له سلواکیا سره پر پوله کنټرول پیلوي. له تېرو څو وختونو راهیسې سلواکیا کې د مهاجرو په شمېر کې ډېروالی راغلی دی.**

**وارسا د دوشنبې په ورځ د سپټمبر په ۲۵مه اعلان وکړ په پام کې لري چې د کډوالو د څپو د مخنیوي لپاره له سلواکیا سره پوله کنټرول پیل کړي.**

**پولنډ او سلواکیا د شېنګن زون غړیتوب لري او د دواړو هېوادونو ترمنځ تګ راتګ ازاد دی.**

**د پولنډ لومړي وزیر ماتیوز موربویاسکي د خپل ټاکنیز کمپاین په ترڅ کې وویل» :ناقانونه کډوال د بالکان له لارې له هنګري او سلواکیا څخه ځانونه [پولنډ ته] رسوي. د پولنډ او سلواکیا ترمنځ پوله نشته، یوازې د شېنګن پوله شته«.**

**هغه زیاته کړه چې د پولنډ کورنیو چارو وزارت ته یې امر کړی چې د ناقانونه مهاجرو د شتون په اړه د شک په صورت کې دې د پولنډ خاورې ته داخلیدونکي موټرونه تلاشي کړي.**

**وارسا له کلونو راهیسې د مهاجرو ضد دریځ لري. د پولنډ د عمومي ټاکنو په را رسېدو سره دغه هېواد کې د کډوالۍ مسله یو ځل بیا توده شوې ده.**

**سلواکیا کې د کډوالو د شمېر ډېروالی :. په تېرو څو وختونو کې سلواکیا کې د کډوالو په شمېر کې زیاتوالی راغلی دی. د روان کال په لومړیو اتو میاشتو کې د سلواکیا امنیتي ځواکونه د ۲۴۵۰۰ کډوالو د نیولو خبر ورکړی دی چې له صربیا او هنګري څخه دغه هېواد ته داخل شوي دي.**

**د سلواکیا د پولیسو په وینا، تېر کال ۱۰۹۰۰ بې اسناده مهاجرو ځانونه دغه هېواد ته رسولي وو.**

**بیا ولولئ :<u>سلواکیا د کډوالو د ورتګ د مخنیوي لپاره له هنګري سره پولې ته ۵۰۰ سرتېري استوي</u>**

**د سلواکیا د پولیسو مشر ستېفن همرن ویلي دي ګڼ شمېر کډوال ځانونه د سوریې اتباع معرفي کوي ځکه چې د نړیوالو مقرراتو له مخې د سوریایانو نیول او اخراجول ممکن نه دي. نوموړي زیاته کړې چې کډوال معمولاً په سلواکیا کې نه پاتې کېږي او لوېدیځې اروپا ته ځي.**

**د یادولو ده چې پولنډ د روان کال په اګست میاشت کې اعلان کړی و چې <u>له بېلاروس سره پولې ته ۱۰ زره نوي سرتېري استوي</u> .هغه وخت د پولنډ د دفاع وزیر ماریوش بلاژچاک ویلي وو چې له دې ډلې څخه ۴۰۰۰ تنه یې د پوله ساتو ځواکونو په عملیاتو کې ګډون کوي او پاتې نور یې حمایوي رول لوبوي.**

## چک برای مبارزه با مهاجرت غیرقانونی با آلمان همکاری می کند

مهاجرنیوز



**چک اعلام کرده است که برای مبارزه با مهاجرت غیرقانونی با آلمان همکاری می کند. قبلا وزیران داخله دو کشور دراین باره به توافق رسیده بودند .**

**ویت راکوزان، وزیر داخله چک در یک پادکست ویدیویی تولید شده توسط پرتال خبری «Seznamzpravy.cz» اعلام کرد که با نانسی فیزر، همتای آلمانی اش درباره به کارگیری «مدل سویس» به توافق رسیده است.**

**به گفته او براساس این مدل «به پولیس های آلمانی این حق داده می شود که در خاک کشور چک به همراه پولیس های این کشور بر وضعیت مهاجرت نظارت داشته باشند». راکوزان در ادامه گفت که چنین اقدامی در چارچوب قرارداد پولیس بین کشورهای آلمان و چک، امکان پذیر است.**

**به گفته وزیر داخله چک، به غیر از این، «چندین عملیات گسترده» نیز برعلیه قاچاقبران برنامه ریزی شده است. اما او جزئیات بیشتری ارائه نکرد.**




**ویت راکوزان، وزیر داخله چک (سمت راست) در یک نشست خبری که به تاریخ ۲۹ سپتمبر سال ۲۰۲۲ برگزار شد.**

**راکوزان در ادامه گفت، فیزر، همتای آلمانی اش اعلام کرده، در صورتی که همکاری با چک نتیجه بخش باشد، آلمان شاید بتواند از کنترول های ثابت مرزی چشم پوشی کند.**

**وزیر داخله چک گفت، انتظار دارد که نخستین اقدامات مشخص در این ارتباط تا أواخر هفته آغاز شوند. این سیاستمدار چکی از حزب محافظه کار) «STAN» شهرداران و مستقلان) در ادامه گفت که گفتگوها دراین باره جریان دارند.**

**قبل از آن یک سخنگوی نانسی فیزر تایید کرده بود که وزیر داخله آلمان با پولند و چک درباره «اقدامات بیشتر نظارتی توسط پولیس های مرزی» گفتگو می کند.**

## اسيايي لوبې؛ محمد خالد هوتک خپل هندي حريف مات کړ

د آزادي راډيو




محمد خالد هوتک

**محمد خالد هوتک خپل هندي حريف مات کړ او افغانستان یې د چین په اسيايي لوبو کې د درېيم مډال ګټښتن کړ.**

د اسيايي لوبو د تنظيموونکي کمېټې د معلوماتو له مخې، د افغانستان د ووشو لوبغاړي محمد خالد هوتک په ۷۰ کيلو ګرام وزن کې د کوارټر فاينل دور په يوه سيالي کې خپل هندی سيال د پښې په يوې ضربې سره ناک اوټ کړ.

هوتک د برنزو د مډال د ګټلو سربېره سيمي فاينل ته لار وکړه او تمه ده هلته له چينايي لوبغاړي سره لوبه وکړي.

خالد هوتک تر دې مخکې قزاقستانی سيال وهلی و.

تمه ده هوتک نن له چينايي سيال سره په نيمه پايلوبه کې مخ شي.

هوتک له تېر اسيايي المپيک هم د برنزو مډال ګټلی و.

د هوتک تر څنګ په ووشو کې نصرت حبيبي هم د برنزو مډال ګټلی او د تکواندو د ملي ټيم لوبډلمشر محسن رضايي هم د برنزو مډال خپل کړی دی.

دې دور اسيايي لوبو کې شاوخوا ۸۰ افغان هلکان ګډون لري.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*